AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۸/۱۵

# د ښونځي سوځولو دود



پر افغانستان باندې د جګړې له سونامي نه رازیږیدلې، ګڼې نورې سونامي ګانې راغلې دي، زموږ ټولنه او خلک یې له هره اړخه ځپلي دي. زموږ د ټولنې او هیواد د ټولو برخو بنسټونه یې ویجاړ کړي، په تیره ښوونه او روزنه او د نوي نسل د روزلو لړۍ، چې پایله یې زموږ د هیواد د څلورو نسلونو له تعلیمه بې برخې کېدل، بې سواده یا کم سواده پاتې کیدل دي.

په دې څو لنډو تېرو ورځو کې، د افغانستان په شمال کې، په تخار او فارياب ولایتونو کې په دوو جلا پېښو کې، په یوه ورځ دوو ښوونځیو ته اور اچول شوی دی. څلوېښت کاله کېږي چې په افغانستان کې د ښوونځیو سوځول روان دي.

د همدې ښوونځي سوځوني د ویر لړلې پېښې اړوند د پوهنې دوو خواخوږوو خپل نظر داسې څرګند کړی دی:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لومړی نظر:

«د ښوونځیو سوزول اوړده مخینه لري. د کودتاه په لومړیو کلونو کې حکومت ضد ډلو د لغمان د الینګار ولسوالی مشهوره او ستره لیسه (شیخ محمد حسین لیسه) وسوزوله او زموږ د ځینو کلیوالو په شمول د ګنو زلمیانو تعلیم نیمګړی پاتي شو.
دې سوزونو په وروستیو شلو کلونو کې لا پسې زور اخیستی او کیدای شي دا لړی ادامه ومومي.
دا متل دروغ دی چې:«که کور وسوزیده نو دیوالونه یې پاخه شول»
موږ له نیمي پیړی راهیسي سوزو؛ خو هماغه شان خام او تک شنه یوو.»

دویم نظر:

دافغانستان د پوهنتونونو د تاریخ یا ټولنپوهنې کومه محصله/ محصل دې له شاه امان الله تر همدا نن پورې د ښوونځیو د سیزلو موضوع د مونوګراف یا ماسترۍ تیزس په چوکاټ کې وڅېړي.
دا دې هم ویلټي، چې آیا د نړۍ کوم بل ولس هم اجازه ورکوي، دوښمنان یې ښوونځي وروسیزي؟ ولو، ان په خورا روسته پاتي ټولنو کې هم؟
زموږ د تاریخ تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده، چې ولې خپل ښوونځي سیزو یا یې پرېږدو چې راویې سیزي؟ زموږ د ټولې بدمرغۍ راز د دې پوښتنې ترشا پروت دی.
د دې څېړنې پایله او ځواب به خامخا داسې وي:
" تر شاه امان الله روسته، زموږ ټوله جګړه زموږ په ګډ جهالت کې زموږ د دوښمنو د پانګونې پایله ده."
په حقیقت کې زموږ په وړاندې زموږ خپل جهالت جنګیږي. پر موږ چې د دین په نامه خپل ښوونځي سیزل کیږي، نو ته وا هر بل څه به نه رابانډې کیږي؟
د ښوونځي او ناموس توپیر څه دی؟»

دغه راز د سرچوکونو په اوازو او د ونو تر سیورۍ لاندې داسې زمزمې هم شته چې په تخار کې د ښونځي د سوځولو اصلي لامل، په هماغې سیمې کې د دوو اوسېدونکو قومونو د تضادونو پایله ده.

که په رېښتیا دا حقیقت وي چې د دوو قومونو د خپلمنځي تضادونو په پایله کې دا ښوونځی سوځول شوی وي، نو دا هم د توپکي رژیم د بې بند و بارۍ د پایلو یو تریخ جام دی چې د وطن نوي نسل ته وړپه برخه دی.

دا چې موږ خپل ښوونځي خپله سوځوو، دلایل یې ډېر دي خو په داسې درسي کتابونو او تدرسي موادو کې یې هم رېښې پټې دي:





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څلور لسیزې پخوا به د دولت اپوزېشن، له دولت سره د مخالفت په دود دا کار ترسره کاوه، وروسته کله چې د بهرنیو استخباراتو، په تېره دوو ګاونډیو هېوادونو (ایران او پاکستان) لاسونه د مظلومو افغانانو تر ستوني او ګرېوان پورې راورسېدل، د یوه شعوري اوږده پلان له مخې یې ښوونځي څکه سوځول چې نوي نسلونه پرته له زدکړو رالوی شي او د ټوپکوالو او نیابتي جګړه مارو د لښکرو له پاره، د فرمان منونکوو سرتېرو حیثیت غوره کړي. دا کار ټولو ټوپکوالو او تنظیمونو په وياړ سره ترسره کړی دی؛ ان تر دې چې بیا وروسته د جهاد مفتیانو د ښوونځیو سوځولو او د ښوونکو حلالولو ته د ثواب ګټلو فتواوې هم صادرې کړې او زموږ پټنګانو؟ دا کار په وياړ سره ترسره کاوه.

دا هر څه چې پېښ شوي یا راپېښېږي، دا زموږ د جهالت، ناپوهۍ او نه تعلیم میوه ده چې موږ ته رارسېږي، اوس یې د زهرو د جام حیثیت غوره کړی دی چې زموږ پر ټولو هېوادوالو باندې څښل کېږي.

د معارف د ستنې د ورانولو او سو ځولو لړۍ روانه ده، اوس دا دی د ښوونځیو سوځول، د ښوونکو وژل، زورول، د معاشونو تښتول او په رنګارنګ نومونو بدنامول د باج اخیستنې، ثواب ګټنې او مادې انعامونو د ترلاسه کولو په خورا عام دود بدل شوی دی.

اوس د ښوونځیو په سوځولو، د بریښنا د ستنو په الوزولو او د نورو عامام المنفعه تاسیساتو په ورانولو سره، دولتي لوړ پوړي چاواکي د دې کارونو عاملین او اړوند ګروپونه په بېلابېلو نومونو سره یادوي او د افغانستان او د خلکو دوښمنان یې بولي؛ خو دغو ښاغلو چې اوس یې د مخ وینتان یا لنډ کړي او یا یې پاک رخیلي دي، لوکسي جامې او د ورځې مود نیکټایانې کاروي؛ هغه ورځې دې ور په یاد کړي چې دوی د دولت د مسلح اپوزېشن په دریځ کې وو، دوی خپله څه کول؟

دوی مځکې د کرکیلې له پاره نه کولبه کولې، دوی ودانیز او عمراني کارونه نه کول؛ بلکې ـ ټول هغه کارونه چې اوسني مسلح اپوزېشن یې کوي ـ دوی تر دې لس چنده زیات کول او د «جهاد؟» نوم یې وربانډې کېښود. له ټولو نه مهمه دا چې همدا د سوځولو، ورانولو، حلالولو، د خلکو د زورولو او لوټ تالان دود له همدوی نه اوسني اپوزېشن ته په میراث پاتې دی.

ټول اوسني هغه لوړ پوړي چاړواکي چې د ټوپکوالۍ او «جهاد؟» مخینه لري، د اوسني مسلح اپوزېشن د ورانیو په مقابل کې یې چغې یوازې د دې له پاره دي چې د خپلو لوټ کړو شتمنیو، غصب کړو مځکو او واک د ساتلو له پاره د دفاع یوه کرښه تر ځان راتاو کړي. دوی همدا کار پخوا کړی و، اوسنی اپوزېشن یې اوس د لا غوړ امتیاز او واک د تر لاسه کولو په غرض ترسره کوي؛ خواره خواري د عامو خلکو ده، چې له لوږې مري او راتلونکي نسلونه یې بېسواده پاتې کېږي او د همدې ټوپکوالو او د نشه یانو د لښکر سرتېري ورنه جوړېږي.

ما د خپلو مقالو په ترڅ کې څو ځلې لیکلي دي چې:

**د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!**

اوس باید دا هم ورزیاته کړم چې:

**د هغو خلکو او قوم تباهي په همغې ورځې او ساعت پیل کېږي چې په خپل کلي کې، په خپل ښار کې او په خپل وطن کې، په خپلو لاسونو خپلو ښوونځیو ته اور اچوي.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ